Helsedirektoratet
Norwegian Directorate of Health

# د ناروی هېواد ته داخلېدل . قرنطین او د روغتیایي ازموینې مقررات

اوس مهال د ناروې څخه د باندې د COVID-19 د ککړېدو کچه ډېره لوړه ده. کله چې تاسو د هر يو هیواد څخه غیر له نوردیک هیوادونو د ځینو خاصو سیمو څخه ناروی ته راځئ نو تاسو باید د 10 ورځو لپاره قرنطین شئ.

غیر له دې چې تاسو مثتثنی و اوسئ تاسو باید د قرنطین پر مهال د قرنطین په یو هوټل کې و اوسېږئ. تاسو د ناروی مرز څخه راتیریدو په دروازو کې او نورو راتللو نقاطو کې د پولیس څخه د قرنطین هوټلونو په اړه معلومات ترلاسه کولای شئ.

- مخکی له دی چی سفر کوی تاسو باید د سفر د ثبت فورمه ډکه کړئ
- تاسو باید د کورونا د ازموینې منفي سند ولری ، چې د رارسیدو دمخه د ۷۲ ساعتونو کې په موده کی اخیستل شوی وئ.
- تاسو باید کله چې ناروې راشي د خپل ځان معاینه کړئ.
- تاسو باید په ناروې کې د ۱۰ ورځو لپاره قرنطین اوسئ

## د دوخولی په وخت کی ثبت کول

هر هغه څوک چې ناروې ته داخلیږي باید د دوخولی فورمه

په ډیجیټلی توګه ډکه کړی که تاسو په ډیجیټلی توګه فورمه ډکه کړئ ، نو تاسو به د هغی یو رسید ترلاسه کړئ چې باید د راتلو پر مهال پولیسو ته وښودل شي.

تاسو باید ناروې ته د رسیدو دمخه ځان ثبت کړئ ، خو نه ۷۲ ساعتونو د ننوتلو له وخت څخه دمخه.

په ډیجیټلی توګه دوخولی فورمې ډکولو ته ورشئ (entrynorway.no)

## ازمیښت

### ناروې ته راتلوونکو څخه د ازموینې غوښتنه

که چیری تاسو په تیرو ۱۴ ورځو کې د قرنطین مکلفیت په یوه ساحه کې وی ، نو تاسو باید ناروې ته د رارسیدو په وخت کی د کووید - ۱۹ ازموینه وکړی.

ازموینه باید په هوایی ډګر یا د سرحد په اوړدو کې واخیستل شي. د ازموینې منل شوي میتودونه د PCR یا د antigen ګړندی ازموینې دی.

دا ازموینه د قرنطین د مودې د کمولو لپاره لومړی شمیره ازموینه ک ده (ددی په هکله د لا ډیر معلوماتو لپاره د قرنطین برخه ولولی)

### لاندې افراد د لومړي بند پر بنسټ د ازموینې له کولو څخه معاف دي:

- هغه کسان چې له ۱۲ کالو څخه کم عمر لرونکي دئ.
- هغه کسان چې د منل شوی لابراتواری میتودونو په واسطه مستند کړی چې دوی د تیرو شپږو میاشتو په موده کې د کووید - ۱۹ ناروغي تیره کړی ده.
- هغه کسان چې 6a د مادی پر بنسټ د کاري ساعتونو په جریان کې او یا په آزاد وخت کې د قرنطین له مکلفیت څخه مستثنی دي.
- پدې کې هغه خلک شامل دي څوک چې له سویډن یا فنلنډ څخه د سرحد په اوږدو کې په منظم ډول تګ راتګ کوي د کار کولو لپاره او یا ښوونځي ته ځي.
- د اوږد واټن ټرانسپورټ مسلکي موټرچلوونکي او د اورګاډی کارمندان چې د بار وړلو ریلونو کې کار نه کوي.
- هغه خلک چې خورا اړ دی چی د جدي ټولنیزو وظایفو جریان په خوندی توګه روان وساتی ، یا خلکو ته لومړني اړتیاوي ورسولی ، او په عملي توګه د آزموینه کول امکان ونلري.
- ډیپلوماتان

Helsedirektoratet
Norwegian Directorate of Health

تاسو سره به یوازې هغه وخت اړیکه ونیل شئ کله چې د ستاسو د ازموینې پایله مثبته وي. د منفي ازموینې د پایلې په صورت کې به له تاسو سره اړیکه ونه نیول شئ. که تاسو helsenorge.no کاروئ ، نو تاسو کولی شئ هلته د خپل د ازموینې د ځواب لیدلو لپاره ور ننه ووځئ. ځینې لابراتوارونه غیر له helsenorge.no نه د ازموینې د پایلې د لیدو لپاره د حل نورې لارې لري، تاسو ته به په دې هکله وویل شئ.

که چیرته تاسو د قرنطین پرمهال په ځان کې د کوید -19 پرمختللي نښې ووینئ، سم د لاسه خپل ځان له نورو څخه جلا کړئ، او د دې لپاره چې ستاسو ازموینه ترسره کړي د روغتیایي کارکونکو سره اړیکه ونیسئ.

### د کوید-19 د ازموینې منفي سند

هغه بهرني اتباع چې دبهرنې هېوادونو څخه د ناروې هیواد ته راځي او خلک یې باید چې قرنطین شي مجبور دي چې باید د کرونا ازموینه ښکاره کړي ترڅو معلومه شي چې د دوی پایله مثبته ده او په کرونا ککړ نه دي.

- ناروې ته د راتګ څخه لږ تر لږه 72 ساعته  ترمخه باید ټسټ وکړل شي
- د PCR او د انتي جن چټک ټیسټ د آزموینې منل شوي میتودونه دي
- تصدیق باید په نارویژنې، سویډنې، ډنمارکې، انګلیسي، فرانسوي یا الماني ژبو لیکل شوی وي

لاندیني اشخاص اړتیا **نه** لري چې د ازموني منفي پایلې وړاندې کړي:

1. د ناروې هیواد اوسیدونکي
2. هغه بهرني ابتاع څوک چې په ناروې کې د اوسیدو جواز یا د اوسیدو حق په لرلو سره اوسیږي
3. هغه بهرني اتباع څوک چې د دې لپاره چې د ټولنې د ساتلو مهم فعلیتونه ترسره کړي یا هغه ځایونه چې د صیحې خطر سره مخ دي او د خلکو د لومړنیو یا اساسي ضرورتونو د پوره کولو لپاره ورځي که په دغه صورت کې داخلدل رد کړل شي
4. د بهرني اتباعو ترانسپورت
5. په استثنا د روغتیایي کارکونکو هغه څوک چې د سویډن یا فنلنډ هېوادونو څخه د ناروې هیواد ته زده کړو یا کار لپاره راځي او له ناروې څخه د باندې د اوو ورځو لپاره پاتې شوی وسي
6. پناه غوښتونکي او بیا میشت شوي کډوال
7. هغه بهرني اتباع چې د کډوالۍ د شرایطو لاندې په ناروې کې ژوند کوي
8. ډیپلوماتیک اشخاص، بهرنۍ خدمات یا د سفارتونو دندې
9. د نظامي پرسونل ځانګړې ډلې
10. هغه بهرني اشخاص، مسافر چې د ترانسپورت په برخه کې د موادو د انتقال لپاره تګ راتګ کوي او یا هم له همدغه دندو څخه چې د مواد انتقال دي بیرته ستنیږي
11. هغه پیلوټان او د سفر سمندري کارکونکي چې د ندو ته ځي او بیرته له دندو څخه راځي
12. د 12 کالو څخه کم عمرلرونکي ماشومان

## ټول هغه مسافر چې له انګلستان او جنوبي افریقا څخه راځي

د عمومي مقرراتو سره سره چې داخلیدو سره سم راجستر او د 10 ورځني قرنطین په اړه دي، د انګلستان او جنوبي افریقا څخه راتلونکو لپاره یو شمیر شرایط وضعه شوي دي. دا شرایط  چې په لاندې ډول دي، په هر نفر چې د 12 څخه زیات عمر ولري د تطبیق وړ دي:

- PCR ټسټ (COVID-19 ټسټ) د هر چا لپاره چې  ناروی ته داخلیږي او ناروی ته داخلیدو ترمخه په انګلستان  او یا جنوبي افریقا کې په تیرو 14 ورځو کې اوسیدلی وی.
  تاسو باید ټسټ شئ:
  a) ژر تر ژره او یا زیات نه زیات ناروې ته داخلیدو په 24 ساعتونو کې، او بیا
  b) ناروې ته داخلیدو څخه وروسته له 7 ورځو څخه وروسته. د 10 ورځو وروسته پایله باید د قرنطین د مودې د ختمیدو ترمخه چمتو شي.

Helsedirektoratet
Norwegian Directorate of Health

د دوخولی قرنطین څخه استثنا کیدل  په عمومی توګه په هغو مسافرینو باندې نه پلي کیږي کوم چې له انګلستان څخه راځی، په استثنا د ځینو مقرراتو.

## قرنطین

په استثنا دهغو هیوادونو خلک لکه نورډیک (Nordic) /اروپایي سیمي (یعني دژیړو سیمو هیوادونه خلک) کولی شي چې په ډېره لږه اندازه ناروی ته خپل سفرونه وکړي، نور چې هرڅوک ناروی ته داخلیږي باید چې د 10 ورځو لپاره خپل ځانونه قرنطین کړي.

[په اروپا کې د سره او زیړ هیوادونو/سیمو نقشه (یوازې انګلیسی)]

هر کله چې تاسو د ناروی هېواد ته رسیږئ نو مستقیم خپل ځانونه د قرنطین ساحو ته ورسوئ او هغه خلک چې عمر یې  له 12 کالو څخه پورته وي باید یو دانه ماسک ترهغه چې د قرنطین ځای ته رسیږي واچوي.

هغه کسان چې معمولا یو ځاې ژوند کوي او یو ځای ناروې ته سفر کوي هغوي به د خپل دخولي قرنطین موده په یوه هستوګنځي کې تیره کړي.

که چیری تاسو د قرنطین په موده کې دوه ځلی د کورونا د وایرس د آزموینې منفي ځواب ترلاسه کړئ تاسو کولی شئ د سفر له امله د قرنطین موده لنډه کړئ :

1. لومړی آزموینه باید له رارسیدو وروسته په دریو ورځو کې واخیستل شي ، او دا کېدای شی  ګړندی آزموینه او یا د PCR  آزموینه وي.
2. دویمه آزموینه باید کم له کمه اووه ورځی وروسته له رارسیدلو څخه واخیستل شي. دویمه آزموینه باید د PCR آزموینه وي.

د قرنطین مکلفیت تر هغه وخته پلي کیږي تر څو چې تاسو د کورونا د آزموینې دوهم منفي ځواب نه  وی ترلاسه  کړئ.

هغه کسان چې له رارسیدو دمخه په تیرو ۱۴ ورځو کې په انګلستان  او یا جنوبی افریقا کې پاتې شوي وی  دا امکانات نه لری چې د سفر له امله د قرنطین موده  لنډه کړی.

که چیرته تاسو د قرنطین پرمهال په ځان کې د کوویډ -19 پرمختللي نښې ووینئ، سم د لاسه خپل ځان له نورو څخه جلا کړئ، او د دې لپاره چې ستاسو ازموینه ترسره کړي د روغتیايي کارکونکو سره اړیکه ونیسئ. ټلیفون شمیره. -47116117+.

## د قرنطین هوټلونه

هر کله چې تاسو د ځانونو د قرنطین کولو لپاره اړ یاست، نو په عادي توګه د قرنطین موده په هوټل کې بشپړه کړئ. دا پدې مانا که چیرته تاسو ناوري هیواده ته د کار لپاره سفر کوئ یا هلته د ملګرو، والدینو سره وینئ نو په عادي توګه د قرنطین په هوټل کې باید د قرنطین ټاکل شوې موده تیره کړئ.

هغه ماشومان چې ملګري یا خپلوان ونه لري او په هوټل کې باید قرنطین شي اړینه ده چې د دوی لپاره د قرنطین هوټل کې ساتونکي ولري.

لاندی کسان اړ **نه** دي چې د قرنطین په هوټل کې پاتې شي:

1. هغه کسان چې د ناروې هستوګن دي (چې په ملي احوال نفوس کې ثبت دي) یا وکولای شي چې په ناروی کې د خپل دایمی هستوګنې ثبوت وړاندی کړای شي (د مثال په توګه.. یو هستوګن چې د ناروې د ټکس داری سره ثبت وي یا د کرایې قرارداد ولري).
2. هغه کسان چې ثابت کړی شي چې د خپل قرنطین په موده کې د اوسیدو لپاره مناسب ځای لري. د 'مناسب ځای' مفهوم دا دي چې داسی هستوګنځاې چې یوه خونه ولري، یوه خصوصی تشناب ته لاسرسی ولري، خپل اشپزخانه یا د خوړو خدمات ولري چیرته چې دا امکان وي چې د نورو خلکو سره د تماس څخه ډډه وشي. دا د مثال په توګه یو د تفریح کور، هوټل یا بل داسې هستوګنځاې چې دې کس ته مهیا شوی وي.
3. هغه کسان چې یو بل کس سره یې واده کړی وي او یا ورسره شریک اولاد ولري چې هغه کس په ناروی کې دایمی هستوګن وي او د هغوي کوچنیان. دا کسان کولای شي خپل د قرنطین موده د خاوند یا ښځې په کور کې یا نورو والدینو په هستوګنځې کې تکمیل کړي.

Helsedirektoratet
Norwegian Directorate of Health

4. تجارتي مسافرین هغه ځوک چي کارګمارونکي ورته په جلا خونه کې د اوسېدو مناسب مشخصات برابروي. تاسو باید د دې ثبوت وړاندي کړئ چي د کار لپاره راغلي یاست او ستاسو مستخدم یا کلاینت یا مشتری په جلا خونه کې ستاسو د هستوګنې لپاره مناسب ترتیبات چمتو کوي. 'مناسب هستوګنځای' هغه ځای دی چې هلته د نورو خلکو سره تماس نه نیول شوني وي، چې یو اطاق د تلویزیون او انټرنیټ سره ولري، شخصي تشناب، او نور اشپزخانه یا د خوړو خدمات ولري، د ثبوت مثال دا دی چې تاسو د کار قرارداد لرئ یا د یوې دندې ترون لرئ او ستاسو مستخدم تاسو ته لیکلې درکړي چې تاسو ته هستوګنځای لري. بیان باید دا څرګنده کړي چې تاسو چیرته اوسیږئ، او د دې ترڅنګ باید د ځای نوم، پته او د تلیفون شماره د استخدام کوونکي یا مشتري په اړه هم وضاحت ورکړي.
5. پناه غوښتونکي او بیا میشت شوي کډوال.
6. د اوږد-واټن لارۍ مسلکي ډریوران او د ریل کاروکوونکي چې د باربرۍ ریلونو کې نه وي استخدام شوي، کولی شي چې هغوی خپل د قرنطین موده په موټر یا ریل په یوه ډبه کې تیر کړي چې د اوسیدو لپاره مناسبه وي.
7. د ناروې د دفاع وزارت لخوا د منظور شویو عملیاتو په خاطر د بهرنیو پوځی فرقو د روزنې، تمرینونو او یا عملیاتو لپاره وي او ناروې ته راځي.
8. خارجي شاګردان چې په ناروې کې میشت دي مخکې له دې چې زده کړې پیل کړی چې په ناروې کې د نفوسو د ثبت په ملی اداره کې ثبت شوی دی، د هغو کسانو په ګډون چې د نفوسو د ثبت په اړه د نوردیک د خصوصي قوانینو له امله په هیواد کې د اوسیدو په نوم ثبت شوی دی. د قرنطین په موده کې، هغوی باید هغه کسانو سره چې هستوګنځای ورسره شریکوي او د هغه سره د قرنطین د شروع کیدو څخه تر مخه ندي اوسیدلي باید تماس و نلري.

اتثتنا دا ده چي تاسو به په کور کې یا مناسب ځای کی د قرنطین په دوران کې و اوسیږئ.

**لګښتونه**

د قرنطین په موده کې به هر شخص په انفرادي توګه د قرنطین په هوټل کې 500 ناروې کرون د خصوصي افرادو لپاره چې د 18 څخه زیات عمر ولري او استخداموونکي تادیه کوي. هغه ماشومانو لپارچې د مور پلار او یا د سرپرست سره په یوه خونه کې اوسیږي او عمرېي د 10 کالو څخه کم وي هیڅ ډول فیس نه ورکول کیږي. هغه ماشومان چې عمر یې د 10 څخه تر 18 کالو پوري وي شخصی سهم د هر ورځې 250 ناروې کرون دی. د رارسیدو یا د رخصتیدو وړاندې باید شخصي ادایه یعني د پیسو ورکړه په عادي توګه د قرنطین په هوټل کې ورکړل شي.

د کوید -19 ازموینه به ستاسو د قرنطین په هوټل کې په وړیا توګه ترسره کیږي..

## د کارکونکو قرنطین ته ننوتل

ناروی ته د راتلو لپاره عمومي قانون دادی چي تاسو به وار له مخې ځانونه قرنطین کوئ خو په دې چاره کې یو څه استثنا هم شتون لري. ځینې استثناوې په دوړو حالتو کې، هم په کاری وخت او هم په غیر کاری وخت کی پلي کیږي، او نور بیا یوازې د کاري ساعتونو په جریان کې پلي کیږي.

هر هغه ځوک چي ناروې ته له داسې هیوادو څخه راځي له چې د ککړیدو کچه یې لوړه ده:

- مخکې له دې چي کارته دوام ورکړي باید د 10 ورځو لپاره ځانونه قرنطین کړي
- کولی شئ د سفر له امله د قرنطین موده لنډ کړئ ، وروسته له دی چې دوه ځلې د کورونا د وایرس د آزموینې منفي ځواب ترلاسه کړئ ، لکه څنګه چې پوره تشریح شول.

[د سیمو او هیوادونو لیسټ په خاصه توګه د ککړتیا لوړی کچې لرونکی (یوازې انګلیسی)]()

### په کاری وخت کی د ځینو کارکوونکو لپاره د قرنطین له مکلفیت څخه اتثتنا

که تاسو چیرته بهرنې کارکونکې یاست چې د نورو EEA هیوادونو یا د سویس څخه چې د قرنطین تابع دې سفرکړی وي، یا هم هغه ځوک چې د ناروې هېواد وسیدنکې ووسې او بهرته مو د کاري اهدافو لپاره سفرکړی وي:

- ترهغه چې د روغتیایي ازموینې پایله مو منفي راوتلي نه وي باید قرنطین ته دوام ورکړئ
- تاسوکولی شئ چې د لومړی منفي ازموینې وروسته خپل کار پیل کړئ، خو تاسو باید د 10 ورځو لپاره په هرو دریو ورځو کې یوځل ازموینه ورکړئ، او ناروې ته له رسیدو وروسته د کاري ساعتونو د باندې د 10 ورځو لپاره په قرنطین کې پاتې شئتاسو
- د قرنطین پرمهال باید په جلا خونه کې پاتې شئ ( هغه خلکو لپاره چې د ناروې اوسیدونکې وي او د کار یا تجارت څخه په EEA یا سویس کې راستانه کیږي دغه تګلاره اړینه نه ده).

که چیری تاسو ناروې ته راتلو دمخه په تیرو ۱۰ ورځو کې په ځانګړې توګه په داسې سیمو کی وی چې د ککړیدلو کچه په کښی لوړه ده ، نو په تاسو استثنا د تطبیق وړ نه ده.

Helsedirektoratet
Norwegian Directorate of Health

[هیوادونه یا سیمې په EEA / سویس کې چې قرنطین لري خو د کارګرانو لپاره اتثتنا امکان شتون لري: په نقشه کې سور رنګه هیوادونه (یوازې انګلیسي).]()

که چیرته تاسو د نوردیک هیوادونو یو خاص سیمې څخه راځئ چې د ککړیدو کافي ټیټه کچه لري نو تاسو د قرنطین څخه مثتثنی یاست.

[هیوادونه او سیمې چې د ککړتیا کافي ټیټه کچه لري (یوازې انګلیسي)]()

## د هغه خلکو تګ راتګ چې په دوامداره توګ د کاري اهدافو لپاره له پولې څخه تیریږي

- هغه کسان چې په تیرو ۱۵ ورځو کې د یو څخه زیات ځلې د سویډن یا فنلنډ د کومې سیمې څخه چې قرنطین لري ناروی په مرز را اووختي وي نو که چیرې هغوی د کروناویروس تیسټ ناروی ته د راتګ په ورځ وکړي او بیا د هغه نه وروسته هر اووه ورځې وکړي نو د قرنطین کیدو څخه اتثتنی لري، خو که چیرې د آخري تیسټ څخه چې هغوی کړی وي د اووه څخه زیاتې ورځې تیرې شي چې هغوی په ناروی کې د SARS-CoV-2 تیسټ کړی وي.
- ځینې مسلکي د لارېو چلونکي چې د لرې سیمو څخه سفر کوي، د اورګاډي پرسونل او د هوایي ډګرونو کاروکونکي کولی شئ د سفر د قرنطین څخه معاف وی. دا کسان باید د خپل کار ورکوونکو سره اړیکه ونیسي ترڅو روښانه کړي چې د هغو لپاره کوم مقررات پلې کیږي.
- [نور مطالعه کړئ]() ( یوازې په انګلیسي)

## د دغه لاندې کټګوریو خلک په دواړو کې هم د کار په جریان کې او هم دکار څخه د باندې له قرنطین څخه معاف دي:

- هغه شخص چې وکولی شي دا ثابته کړي چې تیرو شپږو میاشتو په جریان کې یې د کوویډ-19 ناروغي لرله، او دغه ناروغي یې د PCR ازموینې او د انټي جن ګړندی آزموینه پواسطه تایید شوئ وی.
- هغه خلک څوک چې د ماشومانو او والدینو ترمینځ موافقه شوي یا د تنظیم شوي لاس رسي لپاره ناروې ته سفر کوي. ورته کړنلاره په هغه اشخاصو چې بیرته له بهر څخه ناروې ته راستانه کیږي هم عملي کیږي.
- هغه اشخاص چې دناروې د دولتي چاروکو لخوا د خارجي پالیسۍ اړوند دلایلو لپاره دعوت کیږي.
- هغه کسانو ته چې خپل نږدې خپلوانو کتلو لپاره راغلي وي چې سخت ناروغ وي یا که غواړي چې د خپل نږدې خپلوان د سوزیدو یا دفنیدو مراسمو کې ګډون وکړي هغوی ته دخولې قرنطین معاف دې. د قرنطین څخه معاف کیدل یوازې هغه وخت د تطبیق وړ دي چې تاسو خپل نږدې خپلوان چې سخت ناروغ وي یا جنازه/سوزیدل یې وي ته راځئ. غیر له دې څخه قرنطین به تطبیق کیږي. په ښاروالۍ کې د روغتیا آمر د داسې معافیت ورکولو مسوولیت لري.

که چیرې تاسو د قرنطین مسئولیت څخه معاف یاست او د کوویډ ۱۹ نښې یا علائم درکې پیدا شي، یا یو ډاکټر شک ولري چې تاسو په کوویډ ۱۹ ککړ شوي یاست، نو تاسو به قرنطین کیږئ.

هغه کسان چې معافیت لري باید هرکله چې شوني وي د کوویډ ۱۹ تیسټ وکړي.

## څه شی په قرنطین کې داخلیدو لپاره ښکیل دی

- تاسو باید خپل د دخول قرنطین د قرنطین په یو هوټل کې یا که چیرې د پورتنی مواردو سره سم تاسو د قرنطین هوټل څخه معاف یاستی نو په بل مناسب ځای کې تیر کړئ.
- تاسو باید هغه ځای چې پکې اوسیږي خوشي کړئ که چیرته د هغو خلکو سره د نږدې اړیکې څخه ځان وژغورئ چې له تاسو سره یوځای پاتې کیږي.
- تاسو باید هغه ځای چې پکې اوسیږي خوشي کړئ که چیرته د هغو خلکو سره د نږدې اړیکې څخه د ځان ژغورولو وړتیا لرئ چې تاسو سره یوځای پاتې کیږي.
- تاسو ناورې ته د داخلیدو یا له ناروې څخه د وتلو پرمهال *پرته* له هوایي ډګرونو یا کوم بل موقیعت څخه چې ستاسو د حرکت اړوند وسې په عامه ترانسپورت کې سفر مه کوئ. په دې حالت کې که چیرته تاسو له 12 کالو څخه پورته عمر ولرئ باید له ماسک څخه ګټه پورته کړئ.

[تاسو به په نورو ژبو کې د کروناویروس په اړه لازیات معلومات دلته پیدا کړئ (regjeringen.no)]()

----

هغه مطالب چې د ناروېژني روغتیا ریاست لخوا چمتو شوي دي